د چا لپاره چې الله تعالى د خير اراده وکړي، نو هغه- په مصيبتونو سره - امتحانوي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دى وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: "د چا لپاره چې الله تعالى د خير اراده وکړي، نو هغه- په مصيبتونو سره - امتحانوي".

[صحيح دى] [بخاري روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې کله الله تعالى خپل يو مومن بنده ته د خير اراده وکړي نو هغه په خپل ځان، مال او کورن کې په مصيبت وررسولو سره امتحانوي، ځکه چې پدې سره مؤمن الله تعالى ته په دعا کولو سره رجوع کوي، ګناهونه يې بخښل کيږي او درجې يې لوړيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4204